# LANDSDELER OG FYLKER I NORGE

# د ناروی زونونه او ولایتونه

دغه سیمه د دو ولایتونه ترومسو ، فینمارک Troms Finnmark .او نورلاندNordland خخه تشکیل شوی ده.

که تاسو په دسمبر یا جنوري کې شمالي ناروې ته لاړ شی، نو تاسو ممکن وینی چی شپه او ورځ هلته تیاره ده .

تیاره موسم هغه وخت دی چې لمر ځلورویشت ساعته له افق څخه ښکته وي. په شمالي ناروې کې تاسو کولی شئ په ژمي کې شمالي نور یا شفق وګورئ.



*Nordlys. Foto: Pxhere.com*

په دوبي کې تاسو کولی شئ په شمالي ناروې کې د نیمي شپې لمر وګورئ. د نیمي شپې لمر هغه وخت لیدل کیږی چې لمر نه لویږی ، او د لمرسترګه شپه او ورځ له افق څخه ښکاری .

ترومس او فینمارک Troms og Finnmark
ترومس او فینمارک د ټولو نه لیرې پاس په شمال ختیځ کې موقعیت لري او له روسیې ، فنلینډ او سویډن سره ګډه پوله لري. ترومسو په ترومس او فینمارک کې ترټولو لوی ښار دی. د ناروې شمال ختیځ نقطه ، کنیف شلودن Knivskjellodden ، په ترومس او فینمارک کې موقعیت لري. ډیر مشهوره ځای د شمالي دماغه ده ، کوم چې د کنیف شلودن په څیر نږدې شمال کی موقعیت لري.




ناروې په پنځو زونونو یا برخو ویشل شوي ده . پاس شمال خوا ته شمالی ناروی ، وسط کی ترونده لاګ او لویدیز کې لویدیز ناروې او ختیځ خوا ته ختیځ ناروې، سویل خوا ته سویلی ناروی پرته ده.

هربرخه په ولایاتو ویشل شوی ده. ناروی یولس ولایتونه لری .

## شمالي – ناروی Nord-Norge

شمالي ناروې وړاندې شمال خوا ته او همدا راز لږ څه وړاندې ختیځ خوا ته موقعیت لري.

شمالي دماغه په ناروې کې د  ګرځندوی یو مشهور ځای دی.



*Nordkapp Foto: Andrey Armyagov, Adobestock*

هامرفست  Hammerfes چې د نړۍ ترټولو شمالي ښار دی ، په ترومس او فینمارک کې موقعیت لري .

## نورلاند Nordland

نورلاند یو اوږد او کم سوره ولایت دی چې له په نورلاند کې  Bodø سویډن سره پوله لري. بودو ترټولو لوی ښار دی.



*Skrei henger til tørk på hjell. Kilde: Nærings og fiskeridepartementet*

لوفوتن په نورلاند کې موقعیت لري او ډیر ټاپوګان لرې. د جنوري څخه تر اپریل پورې ، په لوفوتن کې د لوفوتن د کب نیولو موسم دی . د لوفوتن کب نیولو پرمهال ، ډیرې په نامه کبان نیول کیږي. سکری  skrei اندازې د سکری یو  راز کب دی چې د بارینتس په سمندر کې پاس شمال کې ژوند کوي.

د جنوري څخه تر اپریل پورې ، سکری کبان لوفوتن ته د هګیو اېښودو لپاره ځي . خلک ډېری د سکری کبان وچه وی. کبان چې وچیږی ور ته وچ کبان ویل کیږي. ډیری وچ کبان نورو هیوادونو لکه ایټالیا او نایجیریا ته صادریږي.

د شمالي قطب دایره د نورلاند څخه تیریږي. د شمالي قطب د دایره شمالی خوا ته د ژمی تیاره او د اوړی د نیمی  شپې لمرلیدل کیږی. هرڅومره چې شمال خوا ته لاړ شو، هغومره د نیمي شپې لمر موده اوږدیږی،  او تیاری ورځې او شپې  سره ډیریږی. په شمالي قطب کې ، د نومبر له شلمی څخه د جنوري تر دوویشتمه پورې تیاره وي ، او د نیمي شپې لمر وخت د  می  ۱۴څخه تر ۲۹ د جولای پورې دی .

## ترونده لاګ- Trøndelag

ترونده لاګ د هیواد په وسط کې موقعیت لري چې هم یوه برخه اوهم یو ولایت دی. دغې سیمې ته مرکزي او  fjord ناروې هم ویل کیږي. ترونده لاګ هم اوږده ترونډ هایمس  fjord لوړ غرونه لري. ترټولو اوږد دی. ترولهټا Trondheimsfjorden فیوردن تر ټولو لوړ غر دی. ترونده لاګ له  Trollhetta .سویډن سره ګډه پوله لري
په ترونده لاګ کې ترټولو لوی ښار ترونډهایم دی. ترونډهایم په ناروې کې دریم لوی  Trondheim په ترونده  Nidarosdomen ښار دی. نیداروسدومن لاګ کې اصلي کلیسا ده. دا کلیسا د مقدس اولاف پرمقبرې باندې جوړه شوې ده. مقدس اولاو  د  Olav وایکنګو پاچا و. هغه د ۱۰۰۰ کال شاوخوا ژوند کاوه. هغه په اروپا کې نورو هیوادونو ته تللی و او د عیسویت په اړه یې اوریدلی و.

هغه پريکړه وکړه چي عيسويت بايد په ناروې کې يوازينۍ مذهب وي. د نيداروسدومن کليسا په تروندها يم کي موقعيت لري.



*Nidarosdomen Kilde: Pixabay.com*

روروس يو ښار دی چې په ترونده لاګ کي موقعيت لري او پاس د روروس په غرونو کي پروت دي. دا ښار ځکه په غرونو کي پروت دی چي په ۱۶۴۴ کال هلته په غرونو کي مس وموندل شول او د مسو کانونه جوړ شول. خلک په کانونو کي د کار کولو لپاره روروس ته ورګډه شول. پدې ډول د روروس ښار وده وکړه .



*Røros Foto: Lars Geithe, Flickr*

## ختيځ ناروې

ختيځ ناروې د هيواد هغه برخه ده چي ډير ولايتونه لری چی يو ولايت يی اوسلو دي

Vestfold og Telemark وستفولد او تیلیمارک په .Viken og Innlandet ویکن او انلاندت ختيځ ناروې کی د ناروی ترټولو پرنفوسه سيمه ده چي ۲،۵ مليونه نفوس لري. يعنی دا چي د ناروې نږدې نيمايی نفوس په ختيځ ناروې کي ژوند کوي

ګلوما د ناروې ترټولو اوږد سيند دی. ګلوما ۶۱۹ کيلومتره اوږدوالی لري چی په شمال کي له تروندلاک څخه د ختيځ ناروی په جنوب کی رابهيږی او فريدريکستاد ته رسيږی.



*Glomma har sitt utløp i Fredrikstad. Kilde: Wikipedia*

ترټولو لوړ غرونه په ناروی کي، د ناروې په ختيځ کي دي د ناروې ترټولو لوړ غر Galdhøpiggen ګالداپيګن دی. دا غر۲۴۶۹ متر جګ والی لری چی د سمندر له سطحي څخه۲۴۶۹ متره لوړ دی.



*Galdhøpiggen. Kilde:Wikimedia Commons*



*1Mjøsa. Kilde: Wikipedia*

## اوسلو – Oslo

د ناروې پلازمېنه او د ناروې ترټولو لوی ښار اوسلو دی. اوسلو یو جلا ولایت دی چې د ننه په اوسلوفیوردن Oslofjorden کی موقعیت لري. شاهي مانۍ، ملي شورا او حکومت په اوسلو کې دي.



*Stortinget Foto: Sergii Figurmyi, Adobestock*

## وېست فولد او تېلېمارک Vestfold og Telemark

د وېست فولد او تېلېمارک ولایتونه د ساحل څخه تر لوړو غرونوپورې غزيدلی.

په وېست فولد او تېلېمارک کې ترټولو لوړ غر د ګوستاد توپن Gaustadtoppen غردی. ګوستاد توپن په ریکان Rjukan کې موقعيت لري او د سمندر له سطحې څخه ۱۸۸۳ متره لوړ دی.




*Gaustadtoppen. Nede i dalen ser vi Rjukan by. Foto: Eystein M. Andersen, Riksantikvaren, Flickr*

د فاریس په نوم اوبه د وېست فولد او تېلېمارک په ښار کې شته دي. د فاریس اوبه خپل نوم د منرال اوبو فاریس ته ورکړی دی. مګر فاریس د فراریس اوبو څخه نه راځي بلکه دا د ځنګل لاندې د یوې چینې څخه چې بوک سکوګن Bøkeskogen ته نږدې ده را اخیستل کیږي .



*Bøkeskogen i Larvik Foto: Jostein, Adobestock*

تونسبرګ Tønsberg په وېستفولد او تېلېمارک Vestfold og Telemarkکې موقعیت لري او د ناروې زوړ ښار دی. دا ښار د 870 کال په شاوخوا کې تاسیس شوی Slottsfjell شلوت فیېل په تنزبرګ کې موقعیت لري او د شمالي اروپا ترټولو ویجاړ ښار دی.



*Slottsfjellet i Tønsberg Foto: Celine, Adobestock*

## ویکن – Viken

د ویکن ولایت په ناروې کې ترټولو پرنفوسه ولایت دی. دا ولایت د سویډن سره ګډه پوله لري. د ویکن ولایت د اوسلو فیورډ څخه ترغرونو پورې،

او د سویډن له پولي څخه ،د جنوبي ناروې تر مینځه پوری پراخه پروت دی.
ترټولو لوی ښارونه یی درامن Drammen
لیله ستروم Lillestrøm او فریډریکستاد دی.

## اینلاندت Innlandet –

اینلاندت یوازینی ولایت دی چې سواحل نلري. دا ولایت د سویډن سره ګډه پوله لري. د ناروې ترټولو لوی جهیل میوسا Mjøsa جهیل دی چی په اینلاندت ولایت کې موقعیت لري. میوسا د Skibladner په درلودلو مشهور دی .
دSkibladner ناروې ترټولو پخوانی کښتی ده چې تر اوسه کار کوی Skibladner. د ایدسول Eidsvoll، هامر Hamar ، لیله هامر Lillehammerاو یوویک Gjøvik تر مینځ تیریږي .



*Skibladner er et dampskip. Foto: Mahlum, Riksantikvaren*

## سویلی ناروی

سویلی ناروی یوازې یو ولایت لری چی اګدر Agderدی. سویلی ناروی یو ښایسته مجمع الجزایر د ټاپوګانو او وړو ټاپوګانو سره او ډیری د لمبا ځایونو لري.



*Skjærgård Kilde: Flickr.com*

په سویلی ناروی کې ترټولو لوی ښار کریستیان ساند دی. د ناروې ترټولو لوی ژوبڼ په کریستیان ساند کې موقعیت لري ، چی د کریستیان ساند ژوبڼ نومیږي ، مګر خلک یی اکثرآ یواځی ژوبڼ یی بولي.



*Lemurer i Kristiansand dyrepark. Foto: Kommunal – og -moderniseringsdepartementet*

## غربي ناروې

د لویدیز ناروې ولایتونه موره او رومسدال Møre og Romsdal، ویست لاند Vestland او روګالاند Rogalandدی. د لویدیز ناروې اوږده فیوردونو او لوړ غرونو fjordپه نړی کی مشهوره دی. د ناروې ترټولو اوږد فیورد ، د سوګنه فیورد Sognefjorden، په نوم په لویدیځ ناروې کې موقعیت لري. چی ۲۰۴ کیلومتره اوږدوالی لري.

وېست لاند Vestland -

وېست لاند کې لوی ښار برګن دی. برګن په ناروې کې دوهم لوی ښار دی ، او دغه ښار اکثرا د لویدیز ناروې پلازمینه بلل کیږي. بریګین Bryggen په برګن کې یو مشهوره ځای دی.



Bryggen i Bergen Foto: Michelle Maria, Pixabay

په ناروې کې ډیری طبیعی یخچالونه شتون لري. طبیعی یخچال یوه لویه سیمه ده چې له یخ څخه جوړه شوې ده. ځینو ځایونو کې په دوبي کې هوا دومره سړه وي چې واوره نه ولی کیږی. نو د هر کال به نیریدو واوره ډیر ه او ډیره سره غونډه اوتلپاتی شي. تر څو چې بالاخره واوره یخ یا ګنګل ته واوړي. کله چې د یخ سره سیمه ډیرلویه او درنه شي نو دګنګل ټوټې دغرو له سرو څخه په راښویېدو شی چې دی ته یو ګلیشیر یا طبیعی یخچال وایی .

یوستدال ایس برن Jostedalsbreen په ناروې کې ترټولو لوی طبیعی یخچال دی. یوستدال ایس برن په وېست لاند په ولایت کې موقعیت لري.



Jostedalsbreen Foto: Tania Zbrodko, Adobestock



Balestrand ligger ved Sognefjorden Foto: mariusltu, Adobestock


په لویدیز ناروې کې نږدې ټول ښارونه د ساحل په اوږدو کې پرانه دي. په سیمه کې ترټولو لوی ښارونه برګن ، Bergen، ستاوانګر Stavanger ، اوله سوند Ålesundاو هاګه سوند Haugesund دي.

روګالاند - Rogaland

په روګالاند کې ترټولو لوی ښار ستاوانګر Stavanger دی. د ۱۹۶۰ کلونو په وروستیو کې تیل په شمالي سمندر کې وموندل شول. او دا پریکړه وشوه چې د تیلو د صنعت مرکزي دفتر باید په ستاوانګر کې جوړ شي. دی دفتر په پیل کې ځلور کارمندان درلودل. یو له دوی نه دعراق څخه و چې فاروق القاسم نومیده.



Oljeplattform Foto: Wikipedia



*Figur 2Vinnufossen. Foto: Carl S Bj, Wikipedia*

د میډ سوند Midsundtrappen زینه چی ۲۲۰۰ دانی
د ډبرو زینی لری، اود نیپال ځخه د شیرپاس خلکو لخوا
جوړی شوی دی.



*Steintrapp Foto: Arild, Adobestock*




پراخه او مرتفع غرنی سیمه هغه اواره غرني سیمه ده
چی هلته هیڅ ونې نشته ، یوازې بوټې شنه کیږی .

هارډانګرویدا Hardangervidda د ناروې ترټولو لویه
پلنه غرني سیمه ده. چی په وست لاند، ویکین Viken او
وېست فولد او تېلېمارک ولایتونوکې موقعیت لري



*Hardangervidda Foto: By-studio, Adobestock*

مور او رومس دال Møre og Romsdal -
په مور او رومس ډال کې ترټولو لوی ښارونه
اوله سوند ، مولده او کریستیان سوند دي.
د ناروې ترټولو جګ آبشار په مور او رومسډال
کې دی ،چې وینوفوسین Vinnufossen
نومیږي. ترټولو مشهور آبشار ورینګفوسین
Vøringsfossenدی ، چی د وېست لاند په
ولایت کې موقعیت لري. د ناروې په لوړو
آبشارونو کې ډیرې اوبه نشته.


TROMS OG FINNMARK
NORDLAND
TRØNDELAG
MØRE OG ROMSDAL
INNLANDET
VESTLAND
VIKEN
OSLO
VESTFOLD
OG TELEMARK
ROGALAND
AGDER